انتخاب از :
آصفه خلیل مسعودی
۱۲ فبروری ۲۰۰۹

## لنــــدی

( لومړی قسمت )

اوښکی می پریږده چه بهیږی
جلا وطنه په ژړا راغلی یمه

******

سپوږمی په تور غرو راخیږی
چه د وطن په یاد تا ته وژاړمه

******

صورت تر کومی مسافر کړی
د خپل وطن قدر به لړ لړ درکومه

******

باد د لغمان لوری راغی
په نورو تری خو په ما خوږ خو لګیدنه

******

ته د لغمان کوڅو کی ګرځه
زه اجازه غوارمه لیری ملک ته ځمه

******

لغمان می ستا د لاسه پریښود
اوس می د ستا غم پردیسی که ژړوینه

******

ته به خپل وطن کی ناست ئی
ز د سفر تکت په جیب کی گرځومه

******

سترګی دکی دکی کیږی
ما د لغمان یادونه خوب ته نه پریږدونه

******

چه پښتو کړم مخ می توریږی
چه پښتو نکړم را می زړه می نه قبلوینه